بسم الله الرحمن الرحيم

قـوهٔ قضائيه

# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري څرګندويه خپرونه

د هستیٰ نظام پر عدل ولاړ دی

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

چهارشنبه ۱۴ وږی ۱۴۰۳ هـ ش | ۱ ربيع الاول ۱۴۴۶ هـ ق | ۴ سپتمبر ۲۰۲۴ م | مسلسله شمېره (۷۵)

## د سترې محکمې له قضائي معاون شيخ محمد قاسم (راسخ) صاحب سره د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې قضائي معاون محترم شيخ محمد قاسم (راسخ) صاحب، د اسلامي عدالت خپرونه کې درته هرکلی او ښه راغلاست وايو او ډېره زياته مننه درنه کوو چې په دې خپرونه کې مو موږ ته د مرکې لپاره وخت راکړ، د اسلامي عدالت په دې خپرونه کې غواړو له تاسو څينې پوښتنې ولرو ترڅو هېوادوال د سترې محکمې پر تشکيل سربېره د قضائي معاونيت په اصلي دندو او په قضائي برخه کې د اسلامي امارت د سترې محکمې په لاسته راوړنو خبر شي.

**لومړۍ پوښتنه:** محترم شيخ صاحب په پيل کې غواړو د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د معاونيتونو په اړه معلومات راکړئ چې د افغانستان اسلامي امارت قضائيه قوه کوم معاونيتونه لري؟

**ځواب:** الحمدلله رب العالمين والصلوة والسلام علی محمد و علی آله و اصحابه اجمين امابعد:

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي مقام د لزوم ديد له مخې ستره محکمه په خپل تشکيل کې څلور معاونيتونه (د مرکزي زون قضائي معاونيت، د جنوب لوېديځ زون قضائي معاونيت، د نظامي محاکمو معاونيت او اداري معاونيت) لري. د يادو معاونيتونو له جملې څخه د مرکزي زون قضائي معاونيت د هېواد د ۲۴ مرکزي، شمالي او ختيځو ولايتونو د محاکمو قضائي اجراآت ترسره کوي او د اړتيا په صورت کې د يادو ولايتونو د قضائي چارو څخه د هېوادوالو د نه رضايت عريضې ګوري او د نواقصو لرلو په صورت کې اړوند محاکمو ته لازم هدايت کوي، دغه راز د جنوب لويديځ زون قضائي معاونيت د جنوب لوېديځ زون د ۱۰ ولايتونو قضائي چارې ترسره کوي، د نظامي محاکمو معاونيت د هېواد په کچه د ټولو نظامي محاکمو اجراآت رهبري کوي او د اړتيا پر مهال د نظامي محاکمو د چارو بررسي کوي، اداري معاونيت بيا د هېواد د محاکمو اداري چارې کنټرولوي.

**دويمه پوښتنه:** شيخ صاحب که په لنډو کې د سترې محکمې د قضائي معاونيت چې په رأس کې يې تاسو قرار لرئ کاري استقامت راته تشريح کړئ؟

**ځواب:** د قضائي معاونيت کاري استقامت به په څو شمارو کې درته واضح کړم هغه داسې چې قضائي معاونيت لاندې عمده چارې رهبري او ترسره کوي:

۱ ـ د اړوند رياستونو د غونډو جوړول.

۲ ـ د سترې محکمې د قضائي ادارو د اجراآتو څارنه.

۳ ـ د اړوند عرايضو ملاحظه کول او مربوطه مراجعو ته يې استول.

٤ ـ د سترې محکمې د عالي شورى په غونډو کې ګډون.

۵ ـ د قضائي چارو د لاښه والي په موخه د سترې محکمې عالي مقام ته مشخصې طرحې وړاندې کول.

٦ ـ د سترې محکمې د رئيس لخوا د ورسپارل شويو قضائي چارو سرته رسول.

۷ ـ په قضائي چارو کې د محکمو او د قاضيانو وړانديزونو ته رسېدنه کول.

۸ ـ اړوند مراجعو ته د استهداګانو احاله کول.

۹ ـ د رئيسانو، قاضيانو، مفتيانو او محررينو په هکله وارد شوي شکايات د څېړنې په موخه د سترې محکمې د قضائي پلټنې عمومي رياست ته راجع کول.

۱۰ ـ د قضائي غړو د قضائي پوهې د کچې د لوړولو په موخه د قضائي برنامو برابرول.

۱۱ ـ قضائي معاون له خپلو اجراآتو څخه د سترې محکمې عالي مقام ته مسؤل دی.

**درېيمه پوښتنه:** شيخ صاحب که د سترې محکمې د قضائي تشکيل په اړه راته ووایاست چې اوس مهال څومره قضائي تشکيل لرئ؟

**ځواب:** د سترې محکمې قضائي تشکيل په اړه که لومړی دا ووايم چې الحمدلله د افغانستان اسلامي امارت له حاکميت وروسته د هېواد په ټولو ولايتونو او ولسواليو کې محاکم فعال شوي او د هېوادوالو دوسيو ته رسېدنه کوي. د سترې محکمې قضائي تشکيل د مراجعينو د دوسيو شمېر ته په کتو ډېرېږي او ثابت نه دی، که هر ولايت او هره محکمه کې د دوسيو او مراجعينو شمېر ډېر وي هغه ته په پام په مربوطه محکمه کې د اړوند دېوانونو نور جزونه هم جوړېږي؛ د بېلګې په ډول د کابل ولايت ښاري ابتدائيه محکمه کې څلورو زونونو سربېره هر دېوان کې د (الف، باء او ځينو کې د جيم) جزونه زيات شوي دي. د هېواد په کچه د درې ګونو محاکمو قضائي تشکيل (۲۱۱۱) کسان دی چې په دې کې قاضي صاحبان، مفتي صاحبان او محررين شامل دي.

**څلورمه پوښتنه:** شيخ صاحب که په دې اړه د ميزان جريدې لوستونکو ته معلومات ورکړې چې د سترې محکمې د فيصلې کولو او د مراجعينو دوسيو ته د کتنې مراحل څو دي؟ او ترتيب يې څه ډول دی؟

**ځواب:** د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې په تشکيل کې د هېواد ټول محاکم درې مرحلې لري (ابتدائيه مرحله، مرافعه مرحله او تميز مرحله)، ترتيب يې داسې دی چې کله يو کس د خپل حق غوښتنه کوي د خپلې ولسوالۍ يا مرکز اړوند ابتدائيه محکمې ته به د رسمي عريضې لپاره مراجعه کوي، عريضه کې به ټول هغه موارد ذکر کړي چې نوموړی يې د خپل حق غوښتنې لپاره لازم ګڼي، وروسته به خپله عريضه ابتدائيه محکمې ته سپاري، اړوند ابتدائيه محکمه به د نوموړي عريضه په دقت ګوري او د دعوى دواړه لوري (عارض او معروض عليه) راغواړي، له دوی د موضوع په اړه تحقيقات کوي بيا د شريعت او اسلامي امارت د اصولو مطابق د دوی د دوسيې په اړه پرېکړه صادروي، که له جانبينو کوم يو د ابتدائيه محکمې په پرېکړه راضي نه وي نو کولای شي مرافعه طلبي وکړي او مرافعه محکمې ته عريضه وکړي، داسې واضح کړي چې ولې د ابتدائيه محکمې په پرېکړه رضايت نه لري؟ مرافعه محکمه يې عريضه ګوري که فرضاً د ابتدائيه محکمې پرېکړه کې نواقص موجود وي مرافعه محکمې يې اصلاح او د شريعت مطابق فيصله کوي، که په دې مرحله کې هم يو له جانبينو راضي نه وي کولای شي تميز محکمې ته مراجعه وکړي او ياده محکمه هم د خپلو اصولو مطابق د دوی قضيې بررسي او رسېدنه ورته کوي.

**پنځمه پوښتنه:** شيخ صاحب يو څه چې د خلکو هم دې ته ډېر ضرورت دی هغه عريضې دي، که سترې محکمې ته د عريضو د سپارلو طريقه او اصول راته روښانه کړئ؟

**ځواب:** که کوم هېوادوال د ماتحت محاکمو د قضائي پرېکړو په تړاو رضايت ونه لري، يا د اړوند محکمې د قضائي غړو له چلند څخه راضي نه وي کولای شي د سترې محکمې د قضائي معاونيت په عنوان خپله موضوع په عريضه کې وليکي، عريضه به د سترې محکمې اړوند د مراجعينو غرفو کې د مقام اړوند غرفې ته وسپاري، يادې غرفې ته سپارل شوې عريضې د مربوطه شخص لخوا د نوبت په اساس ترتيب او قضائي معاونيت ته انتقالېږي، قضائي معاونيت کې تر پوره مطالعې او کتنې وروسته پر عريضه اصولي احکام ليکل کېږي او بيا د همغه غرفې له طريقه عارض ته سپارل کېږي.

**شپږمه پوښتنه:** شيخ صاحب محاکمو ته راجع کېدونکې عريضه کې بايد څه وليکل شي؟ يعنې که کوم څوک غواړي محکمې ته عريضه وسپاري عريضه يې بايد د کومو اصولو په اساس ترتيب شوې وي او کوم څه د عريضې په ليکلو کې حتمي دي؟

**ځواب:** عريضه چې څومره خلص او واضح وليکل شي هغومره ګټوره ده؛ خو زه يې څو لاندې موارد دلته يادونه ضروري ګڼم چې عريضه ليکونکي ورته متوجه شي:

۱. عريضه کې بايد د عارض او معروض عليه مکمل شهرت وليکل شي.

۲. عريضه کې د موضوع خلاصه ليکل

پاتې برخه ۳ص

### په نبوي دوره کې د ځينو قاضيانو يادونه:

**يوولسمه برخه**

**۲-...معاذ بن جبل رضي الله عنه**

معاذ (رضي‌الله عنه) په بېلا- بېلو قضيو کې پرېکړې او حکمونه کړي دي، چې له هغو جملې څخه يو د اسود په روايت کې راغلي، وايي: «معاذ (رضي‌الله عنه) زموږ په اړه د رسول الله (صلی‌الله عليه وسلم) په زمانه کې پرېکړه وکړه، چې (نيمه برخه د لور او نيم د خور لپاره دي)». [رواه البخاري، شمېره:۶۸۴۱]
او معاذ (رضي‌الله عنه) د ابوبکر صديق (رضي‌الله عنه) خلافت پورې يمن کې پاتې شو او کله چې عمر فاروق (رضي‌الله عنه) خليفه وټاکل شو، نو بېرته مدينې منورې ته را ستون شو او جهاد ميدان ته يې ور ودانګل، شام کې له اسلامي لښکر سره يوځای شو او کله چې أبو عبيده (رضي‌الله عنه) د عمواس په طاعون مبتلاء شو، نو معاذ (رضي‌الله عنه) يې ځای ناستی وټاکل شو او د عمر (رضي‌الله عنه) لخوا منظور شو، نو په همدغه کال يې د مرګ داعي ته لبيک هم ووايه.

إنا لله وإنا إليه راجعون

اخذليک: تتمة النظام، ۴۴ صفحه، تألیف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## په کابل کې یوه متهم ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت د مرافعه محکمې اړوند ښاري ابتدائیه محکمې څلورم زون د جزا دېوان الف جز د پرېکړې په اساس په ( ۲۰ /۲ /۱۴۴۶ هـ ق) نېټه یوه تن ته چې پر لواطت متهم و؛ تعزیري سزا ورکړل شوه. ابتدائیه محکمې یاد متهم په دوه کاله تنفیذي بند او ۳۵ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و؛ چې یاد حکم د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر متهم تطبیق شو.

## د سترې محکمې د دعوت او ارشاد ریاست پلاوي د بادغیس، هلمند او نیمروز ولایتونو مرافعه محاکمو ته د دعوت او ارشاد برخې آمرین وټاکل

د سترې محکمې د دعوت او ارشاد ریاست رئیس محترم حافظ مولوي عبدالعزیز (میوندي) او د یاد ریاست مدرس مولوي عبدالمالک (انقیادي) بادغیس، هلمند او نیمروز ولایتونو ته د سفر پر مهال د یادو ولایتونو د مرافعه محاکمو لپاره د دعوت او ارشاد برخې آمرین وټاکل.

د دعوت او ارشاد ریاست یاد پلاوي د ۱۴۴۶هـ ق کال د صفرالمظفر میاشتې په ۶/ ۱۵/ ۱۶ مه نېټه په یادو ولایتونو کې له لسګونو علماء کرامو آزموینه واخیسته او د دوی له ډلې یې درې ممتاز علماء کرام د اړوند ولایتونو مرافعه محاکمو ته د دعوت او ارشاد برخې د آمرینو په حیث وټاکل.

دغه راز د دعوت او ارشاد ریاست پلاوي د خپل سفر پر مهال د یادو ولایتونو د محاکمو له اړوند مسؤولینو او منسوبینو سره اصلاحي ناستې ترسره کړې.

په دې اصلاحي غونډو کې د یاد پلاوي لخوا ټولو ګډونوالو ته مهمې او ارزښتناکې ویناوې وشوې.

## په زابل ولایت کې څلورو مجرمینو او اته متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د زابل ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې اړوند د جزا دېوان د پرېکړې په اساس څلورو کسانو ته د نامشروع اړیکو، د ښځې تبښتونې او د یو چا د وژلو د قصد کولو په جرم او اته تنو ته د غلا په تور په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

د جزا دېوان اته تنه متهمین له یو کال څخه تر ۶ کالو په تنفیذي بند او له ۲۰ دُرو څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزیري سزا، یو مجرم پر درې کاله تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا، دوه مجرمین پر یوه کال او شپږ میاشتې تنفیذي بند او ۲۰ دُرو تعزیري سزا او وروستی مجرم پر یوه کال تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د مرافعه او ښاري محاکمو محترمو رئیسانو، قضائي او اداري کارکوونکو، د ولایت مقام د دفتر رئیس، د علماوو شورا غړیو، د امنیه قوماندانۍ، د فرامینو د تعقیب او نظارت ریاست، د استخباراتو ریاست استازو او د محاکمو مراجعینو حضور درلود.

غونډه د مرافعه محکمې د رئیس په وینا پیل شوه؛ ورپسې د علماوو شورا غړي د موضوع اړوند تفصیلي خبرې وکړې.

د یادونې وړ ده چې یاد حکم د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته چې ټول مجرمین او متهمین نارینه وو؛ تطبیق شو.

## په هلمند ولایت کې دریو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د هلمند ولایت د مرافعه محکمې اړوند د باباجي ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د پرېکړې په اساس دریو کسانو ته چې په قطاع الطریقۍ او غلا متهم وو؛ په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې د یادو متهمینو له جملې دوه تنه پر دوه کاله تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا او دریم متهم پر اته میاشتې تنفیذي بند او ۳۰ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د یادې ولسوالۍ ولسوال، امنیه قوماندان، د استخباراتو مسؤول د نورو ادارو مسؤولینو او عامو هېوادوالو ګډون کړی و.

غونډه کې د یادې محکمې قاضي او علماء کرامو د موضوع اړوند مهمې خبرې وکړې.

د یادونې وړ ده چې یاده پرېکړه د هلمند د مرافعه محکمې، د جنوب غرب زون د تمیز عالي ریاست او د سترې محکمې د قضائي معاونیت له تائید وروسته تطبیق شوه.

## په غزني ولایت کې دوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل

د غزني ولایت د دهیک ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د پرېکړې په اساس دوو کسانو ته چې پر غلا متهم وو؛ د ۱۴۴۶ هـ ق کال د صفرالمظفر میاشتې په ۲۳ مه نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې د یادو متهمینو له جملې یو تن پر دوه کاله تنفیذي بند او ۳۹ دُرو او بل متهم پر درې کاله تنفیذي بند او ۳۵ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و.

د ابتدائیه محکمې یاد حکم د غزني ولایت د مرافعه محکمې او د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر متهمینو تطبیق شو.

## د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې په هڅو د قتل موضوع حل شوه

د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د مسؤولینو په هڅو او د قومي مشرانو په منځګړیتوب په ۱۵ / ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه د قتل موضوع حل شوه.

د قتل دغه پېښه چې په نتیجه کې یې یوه ښځه وژل شوې وه، د روان کال د محرم الحرام میاشتې په ۱۷ مه نېټه رامنځته شوې وه؛ چې ابتدائیه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته د یادې محکمې د مسؤولینو او قومي مشرانو په منځګړیتوب حل او موضوع یې په رسمي ډول پای ته ورسېده.

د یادونې وړ ده چې د یادې موضوع دواړو لوریو د محکمې له هڅو خپله خوشحالي څرګنده کړه، د محکمې له مسؤولینو یې مننه وکړه او د اسلامي نظام د بقا او استقامت دعا یې وکړه.

## خوست ولایت کې دریو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د خوست ولایت د علیشیرو ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د پرېکړې په اساس په ۲۴/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه د یوې مېرمنې په ګډون دریو تنو ته له کوره د تېښتې او د ښځې د تښتولو په جرم په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې د یادو مجرمینو له جملې څخه یوه مجرمه پر یوه کال او شپږ میاشتې تنفیذي بند او ۳۵ دُرو تعزیري سزا، دویم مجرم پر دوه کاله تنفیذي بند او دریم مجرم پر درې کاله تنفیذي بند محکوم کړی و.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د مرافعه محکمې عمومي رئیس او ورسره مل پلاوي، د یادې ولسوالۍ قضائي، نظامي، اداري مسؤولینو او منسوبینو او عامو هېوادوالو ګډون کړی و.

غونډه د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د امربالمعروف او نهی عن المنکر ریاست محتسب وینا وکړه.

د غونډې په دوام د مرافعه محکمې رئیس د موضوع اړوند تفصیلي خبرې وکړې.

د یادونې وړ ده چې یاد حکم د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو تطبیق شو.

## د پکتیا د مرافعه محکمې رئیس په هڅو د دوو کورنیو ترمنځ رامنځته شوې د قتل موضوع حل شوه

د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس الحاج مفتي عبیدالله (خالد) په ډېرو هڅو د قومي مشرانو په منځګړیتوب د یاد ولایت په زرمت ولسوالۍ کې د دوو کورنیو ترمنځ رامنځته شوې د قتل موضوع حل او د دواړو کورنیو ترمنځ سوله وشوه.

دغه د قتل پر سر رامنځته شوې جزائي دوسیه د زرمت ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې له لومړنیو اجراآتو وروسته د استینافي غور او څېړنې په موخه د مرافعه محکمې د جزا دېوان ته محول شوې وه؛ چې د مرافعه محکمې د عمومي رئیس او د جزا دېوان رئیس مولوي واحدالله (صدیقي) په ډېرو هڅو جانبین سولې ته راضي شول.

د قتل د یادې موضوع طرفینو د زرمت ولسوالۍ د جهادي ډلګۍ مشرانو، علماء کرامو، مخورو او سپین ږیرو په حضور کې سوله وکړه او دښمني یې په رسمي ډول پای ته ورسېده.

## د ننګرهار محاکمو په دوو اونیو کې (۴۴۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۴۵) وثیقې هم اجرا کړې دي

د ننګرهار ولایت مرافعه محکمې، وثایقو، ښاري ابتدائیه محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له ( ۱/ ۲/۱۴۴۶هـ ق څخه تر ۱۶/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۴۴۴) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۱۴۵) وثیقې یې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۵۸) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۲۰) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۱) دوسیې فیصله شوې، (۱۷) دوسیې مکتوبې اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۲۱۸) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۵۹) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۴۲) دوسیې فیصله شوې،(۲۰) دوسیې مکتوبې اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۴۶) تجارتي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۳۳) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۳) دوسیې فیصله شوې، (۹) دوسیې مکتوبې اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۴۵) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## دکابل ولایت اختصاصي محکمې په دوو اونیو کې (۴۱) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

دکابل ولایت اختصاصي محکمې په دوو اونیو کې له (۱ / ۲ /۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۱۵ /۲ /۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۴۱) دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه د (۳۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۴) دوسیې فیصله شوې، (۵) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## د سترې محکمې له قضائي معاون...

ضروري دي.

۳. عریضو ته د ښې او غوره رسېدنې په موخه د عریضې د ثبت دقیق تاریخ اړین او لازمي دی.

٤. د عریضې تاریخ باید قلم خور نه وي.

٥. عریضه باید خپله عارض چې دوسیه یې په جریان کې ده یا د وکالت د جواز نمبر په اساس د هغه د وکیل لخوا وړاندې شي.

٦. عارض باید په عریضه کې خپلې غوښتنې په روښانه او واضح ډول ولیکي؛ د بېلګې په توګه: د دعوی ځای، مدعی بها، د فیصلې شمېره او نېټه.

٧. د عریضه لیکونکي بشپړ شهرت باید عریضه کې موجود وي.

٨. د عارض موضوع چې ابتدائیه محاکمو کې جریان ولري، سترې محکمې ته د مراجعې پر مهال باید د مرافعه محکمې د اجراآتو کاپي ورسره ضمیمه وي؛ ترڅو دا روښانه شي چې عارض سترې محکمې ته د عارض کېدو څخه مخکې مربوطه مرافعه محکمې ته مراجعه کړې ده.

٩. عریضه کې د عارض شصت/لاسلیک ضروري دی.

١٠. د عارضینو عمومي مدیریت د عرایضو په برخه کې د ښه والي او څارنې په موخه باید پورته یاد شوي ټکي او مطابق تر جدي کنټرول لاندې ونیسي.

**اوومه پوښتنه:** د اسلامي امارت درېګونو محاکمو په تېر ۱۴۰۲ هـ ش کال کې څومره قضیې حل او فصل کړې دي؟

**ځواب:** د افغانستان اسلامي امارت درېګونو محاکمو د ۱۴۰۲ هـ ش کال په جریان کې په ابتدائیه، مرافعه او تمیز مرحله کې مجموعاً (۱۷۵۶۵۷) دوسیې حل او فصل کړې دي، له دې جملې څخه (۱۴۴۲۷۴) دوسیې په ابتدائیه مرحله، (۲۵۰۳۷) دوسیې په مرافعه مرحله او (۶۳۴۶) دوسیې په تمیز مرحله کې حل او فصل شوې دي، او په همدې موده کې (۱۷۴۳۰۵) وثیقې هم اجرا شوې دي.

**اتمه پوښتنه:** شیخ صاحب که په دې هکله هم معلومات راکړئ چې د خلکو مشکلاتو ته په کومه کچه رسېدنه شوې ده او ولس د محاکمو له چارو څومره راضي دئ؟

**ځواب:** د افغانستان اسلامي امارت قضائیه قوې محترم عالي مقام په محاکمو کې د مراجعینو ستونزو ته د رسېدو په موخه ډېر ګټور او شفاف ترتیب برابر کړی دی، داسې چې که هر هېوادوال مشکل ولري په ډېره اسانۍ او ساده لاره خپله ستونزه له اړوند محکمې سره شریکولای شي، دغه راز د محاکمو تر پرېکړو وروسته هم قضائیه قوې مراجعینو ته د خپلو ستونزو د حل لاره جوړه کړې ده، یعنې زه په ډاډ ویلای شم چې محاکمو کې د اکثریت مطلق هېوادوالو ستونزو او موضوعاتو ته رسېدنه کېږي او زموږ د ارزیابۍ او معلوماتو له مخې الحمدلله اوس مهال ولس پر محاکمو بشپړ باور لري او له کاره یې رضایت ښیي.

**نهمه پوښتنه:** شیخ صاحب د محاکمو مسؤولینو ته څه سپارښتنې لرئ؟

**ځواب:** د محاکمو مسؤولینو ته مو سپارښتنه داده چې د خلکو ستونزې او مشکلات د اسلامي اصولو او د اسلامي امارت د محاکمو اصولو ته په کتو سره حل او فصل کړي، هېڅ فشار دې په ځان نه مني، د هېڅ فرد تر تاثیر لاندې دې نه راځي او حق دې حقدار ته وسپاري؛ ځکه چې محکمه د عدالت ځای دی باید عدالت په کې تطبیق شي، حاضرۍ ته دې پابندي وکړي، په ټاکلي وخت دې دندو ته راځي او پر ټاکلي وخت دې بېرته ځي، وخت نا وخت دې د زندانیانو پوښتنه کوي، د ماتحت محاکمو او کارکوونکو د کارونو نظارت او څارنه دې کوي، د خلکو غږ دې واوري او خپلې ټولې چارې دې د اسلامي شریعت مطابق برابرې کړي.

**لسمه پوښتنه:** شیخ صاحب عام ولس ته څه پیغام لرئ؟

**ځواب:** عام ولس ته زما پیغام دادی چې پر محاکمو دې باور ولري، د محاکمو پرېکړو ته دې درناوی وکړي، که کوم مشکل ولري په اصولي ډول یې دې محکمې ته راجع کړي ترڅو د اسلامي شریعت مطابق ورته رسېدنه وشي.

## د بلخ محاکمو په دوو اونیو کې (۵۵۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۰۱) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، د بلخ زون نظامي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۲۱/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټې څخه تر ۴/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۵۶۳) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۰۱) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۴۴۲) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۴۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۸۷) دوسیې فیصله شوې، (۲۰۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۹۵) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۹) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۸) دوسیې فیصله شوې، (۹) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۴۰۱) ببلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم بادغیس طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۴۸۴) دوسیه، به تعداد (۳۴۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بادغیس، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۵/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۳/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۳۸۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۹۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۱) دوسیه فیصله شده، (۱۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۱۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۰۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۲) دوسیه فیصله شده، (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بادغیس به تعداد (۳۴۲) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم دایکندی طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۵۱) دوسیه، به تعداد (۱۹۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت دایکندی، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۴/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱) دوسیه فیصله شده، (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت دایکندی به تعداد (۱۹۰) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د هلمند محاکمو په یوه میاشت کې (۵۵۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره (۶۴۸) وثیقې هم اجرا کړې دي

د هلمند ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱۴/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۱۵/ ۲ / ۱۴۴۶ هـ ق نېټې) پورې (۵۵۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره (۶۴۸) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د هلمند ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۳۵۰) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۱۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۰۹) دوسیې فیصله شوې، (۱۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د هلمند ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۵۱۷) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۱۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۹۱) دوسیې فیصله شوې، (۱۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د هلمند ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۶۴۸) ببلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم کاپیسا طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۲۲) دوسیه، به تعداد (۷۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت کاپیسا، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۲) دوسیه فیصله شده، (۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۰) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۲) دوسیه فیصله شده، (۱۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت کاپیسا به تعداد (۷۱) قطعه وثایق نیز اجرا گردیده است.

سرپرست مسؤل مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

لا إله إلا الله محمد رسول الله

## د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئیس، سمنګان، کندوز، بدخشان او تخار ولایتونو ته سفر وکړ

د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله (درویش) چې محترم مفتي عبدالحی (شاکر) یې ملتیاکوله د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په ځانګړي هدایت د روان ۱۴۴۶ هـ ق کال د صفرالمظفر میاشتې په ۲۰مه، ۲۲مه او ۲۴مه نېټه د یو شمېر مهمو جزائي دوسیو د نهایي کولو په موخه، سمنګان، کندوز، بدخشان او تخار ولایتونو ته سفر وکړ.

د سترې محکمې د جزاء دېوان رئیس د دغه سفر پر مهال په یادو ولایتونو کې (۱۷) جزائي دوسیې چې د قتل موضوعات هم په کې شامل وو، حل او فصل کړې.

د جزا دېوان عمومي رئیس په یاد سفر کې د مرافعه محاکمو له رئیس صاحبانو او نورو قضائي غړو سره وکتل او د جزائي موضوعاتو د حل او فصل په موخه یې تر تفصیلي خبرو وروسته ورته لازم هدایات وکړل.

ورپسې یې د یادوو (۱۷) جزائي دوسیو چې، شپږ دوسیې په سمنګان، پنځه دوسیې په کندوز، پنځه دوسیې په بدخشان او یوه دوسیه په تخار ولایت کې وه، له جانبینو سره وکتل او له هغوی یې د دوسیو په اړه بشپړ تحقیقات وکړل.

په دې سربېره محترم مفتي عتیق الله (درویش) صاحب د یادو دوسیو اړوند زندانیان راوغوښتل او د مربوطه موضوعاتو په تړاو یې ترې پوره پوښتنې او تحقیقات وکړل.

د یادونې وړ ده چې د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئیس په دې سفرونو کې د یو شمېر ذکر شوو ولایتونو له والي صاحبانو او نورو ولایتي مسؤلینو سره هم وکتل او د ولایتي ادارو د همغږی د تقویې په موخه یې ورته لازمي سپارښتنې وکړې.

## د هلمند، پکتیا، بدخشان او غزني ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې (۹۶۴) عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده

د سترې محکمې د حقوقو عمومي ریاست اړوند د هلمند، پکتیا، بدخشان او غزني ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې له (۱۵/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې (۹۶۴) حقوقي عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

۱. د هلمند ولایت د حقوقو آمریت ته په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۲۸۰) حقوقي عرض‌پاڼې راجع شوې دي. له دې جملې څخه (۱۳۰) حقوقي عرض‌پاڼې د مصالحې له لارې حل او فصل شوې، (۱۱۰) حقوقي عرض‌پاڼې محاکمو ته لېږل شوې او پاتې عرض‌پاڼې تر اجراآتو لاندې دي.

۲. د بدخشان ولایت د حقوقو آمریت ته په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۱۱۲) حقوقي عرض‌پاڼې راجع شوې دي. له دې جملې څخه (۷) حقوقي عرض‌پاڼې د مصالحې له لارې حل او فصل شوې، (۶) حقوقي عرض‌پاڼې محاکمو ته لېږل شوې او پاتې تر اجراآتو لاندې دي.

۳. د غزني ولایت د حقوقو آمریت ته په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۲۳۲) حقوقي عرض‌پاڼې راجع شوې دي. له دې جملې څخه (۲۳) حقوقي عرض‌پاڼې د مصالحې له لارې حل او فصل شوې، (۳۰) عرض‌پاڼې حفظ شوې، (۶۰) حقوقي عرض‌پاڼې محاکمو ته لېږل شوې او پاتې تر اجراآتو لاندې دي.

٤. د پکتیا ولایت د حقوقو آمریت ته په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۳۴۰) حقوقي عرض‌پاڼې راجع شوې دي. له دې جملې څخه (۲۶) حقوقي عرض‌پاڼې د مصالحې له لارې حل او فصل شوې، (۵۶) حقوقي عرض‌پاڼې محاکمو ته لېږل شوې او پاتې تر اجراآتو لاندې دي.

## دکابل ښار د اسنادو او وثایقو د ثبت شپږو آمریتونو په دوو اونیو کې (۱۴۸۹) بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي

د کابل ښار د اسنادو او وثایقو د ثبت شپږو آمریتونو په یوه میاشت کې له (۱/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۱۴۸۹) بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**۱ - د اسنادو او وثایقو د ثبت لومړی حوزه:**

د اسنادو او وثایقو د ثبت لومړی حوزې په دوو اونیو کې (۱۸۳) نکاح خطونه، (۲۸) زوجیت خط او (۷۹) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۲ - د اسنادو او وثایقو د ثبت دویمه حوزه:**

د اسنادو او وثایقو د ثبت دویمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۳۱) نکاح خطونه، (۱۳) زوجیت خطونه او (۷۸) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

۳ـ د اسنادو او وثایقو د ثبت دریمه حوزه:

د اسنادو او وثایقو د ثبت دریمې حوزې په دوو اونیو کې (۹۶) نکاح خطونه، (۱۵) زوجیت خطونه او (۸۱) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۴ - د اسنادو او وثایقو د ثبت څلورمه حوزه:**

د اسنادو او وثایقو د ثبت څلورمې حوزې په دوو اونیو کې (۷۶) نکاح خطونه، (۷) زوجیت خطونه او (۵۷) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۵ - د اسنادو او وثایقو د ثبت پنځمه حوزه:**

د اسنادو او وثایقو د ثبت پنځمې حوزې په دوو اونیو کې (۲۸۵) نکاح خطونه، (۲۰) زوجیت خطونه او (۵۲) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

۶ـ د اسنادو او وثایقو د ثبت شپږمه حوزه:

د اسنادو او وثایقو د ثبت شپږمې حوزې په دوو اونیو کې (۲۳۶) نکاح خطونه، (۱۴) زوجیت خطونه او (۳۸) نورې بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.







میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc۱۴۴۳@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې:
۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳